د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 452**

(15 عقرب – 20 عقرب 1403 هـ ش)

## د بریکس سازمان ته یوه کتنه؛ موخې او ننګونې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د بریکس سازمان ته یوه کتنه؛ موخې او ننګونې ........................................................ 3
- د بریکس سازمان ورتیاوې.................................................................... 6
- خنډونه او ننګونې ................................................................................ 6
- افغانستان او برکس ............................................................................... 7
- پایله .................................................................................................... 8
- وړاندیزونه ............................................................................................ 9
- سرچینې ............................................................................................... 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د بریکس سازمان ته یوه کتنه؛ موخې او ننګونې

## سریزه

په دې وروستیو کې د بریکس سازمان پنځلسمه غونډه د روسیې په کازان ښار کې جوړه شوه چې د دغې غونډې او د سازمان د نورو غونډو ترمنځ اصلي توپیر دا و چې د دغه سازمان د نویو غړو هېوادونو مشران چې په کې ایران، مصر، متحده عربي اماراتو او ایتوپیا شامل وو ګډون کړی وو. د بریکس سازمان یو بین دولتي سازمان دی چې لومړنی مفکوره یې په 2001م کې د مالي خدماتو او بانکدارۍ لوی اقتصاد پوه جیم اونیل لخوا وړاندې شوې وه. نوموړي په خپله مقاله کې د برازیل، روسیې، هند او چین هیوادونو د پیاوړي اقتصادي ظرفیت او ځواک ته په پام سره وړاندیز کړی و چې دغه هېوادونه دې د (BRIC) په نوم یوه اقتصادي ډله جوړه کړي. د جیم اونیل له طرحې څخه اته کاله وروسته، د BRIC سازمان په 2009م کې د برازیل، روسیې، هند او چین د مشرانو لخوا د روسیې په یکاترینبورګ کې تاسیس شو. کله چې سویلي افریقا په 2010م کې په دې سازمان کې شامله شوه، نوم یې BRICS ته بدل شو، چې د غړو هیوادونو د نوم لومړني انګلیسي توري دي. دغه سازمان د ۲۰۲۳ م کال په غونډه کې د ایران، مصر، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او ایتوپیا هېوادونو ته بلنه ورکړه چې د رسمي غړو په توګه د دغه سازمان غړي شي. له سعودي عربستان پرته درېیو نورو هېوادونو دې بلنې ته مثبت ځواب ووایه، چې د دغه سازمان غړیتوب یې اتو هېوادونو ته ورساوو. دغه راز اوولسو هېوادونو په رسمي ډول د بریکس سازمان د غړیتوب لپاره غوښتنلیکونه ورکړي او د افغانستان او پاکستان په ګډون پنځلسو هېوادونو د بریکس سازمان د غړیتوب لپاره لېوالتیا ښودلې ده. د بریکس سازمان د تکمیلی بهیر له مخې، دغه سازمان به په راتلونکې کې په نړیوال نظام کې د یوه مهم او پرېکنده لوبغاړي په توګه راڅرګند شی. له همدې امله، په دې مقاله کې د دغې موخې، وړتیاوې او ننګونې څېړل شوي او ارزول کیږي.

## د بریکس سازمان موخې

**الف- اقتصادي موخې:** د دویمې نړیوالې جګړې وروسته، نړیوال مالي سیستم چې د بریټون ووډز په کنفرانس کې رامینځته شو، هغه اقتصادي نظم چې د نړیوالې جګړې له امله ویجاړ شوی و، بیا ترتیب کړ او په سیاسي توګه د لویدیځ، په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو د بنسټ اېښودونکي په حیث پر نړیوال مالي او اقتصادي سیستم واکمن شو. د بریټون ووډز مالي سیستم چې د نړۍ د اسعارو په توګه په ډالر باندې تاسیس شوی و، وروسته د نړیوال وجهي صندوق او نړیوال بانک په رامنځته کېدو سره پیاوړی شو. د دې پروسې په دوام کې، د لویدیځ مالي پالیسیو سره سم، د سویفټ سیستم (SWIFT) په 1973م کې د بانکي خدماتو د وړاندې کولو وسیلې په توګه رامنځته شو. بالاخره، دې ټولو هڅو د لویدیځ سره مرسته وکړه چې پر نړۍ خپل اقتصادي او مالي تسلط ټینګ کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

که څه هم مخ پر ودې اقتصادونه لکه چین، هند، برازیل او روسیه [د بیا تنظیم شوي اقتصاد په توګه] درې لسیزې وړاندې نړیوال اقتصادي دوره ته ننوتلي وو، خو د نړۍ په مالي او اقتصادي سیستم باندې د لویدیځ د تسلط له امله د دغو مخ پر ودې اقتصادونو په یوازې ځان د لویدیځ د اقتصادي تسلط د ننګولو توان نه لري، چې له هغې څخه د لویدیځ لخوا د اقتصادي - سیاسي وسلې په توګه کار اخېستل کیږي. له همدې امله دا مفکوره راپورته شوه چې د یوې منظمې همغږۍ او همکارۍ په رامنځته کولو سره نه یوازې دا هیوادونه د پرمختګ او اقتصادي ودې موخو ته رسیدلی شي، بلکې په دې توګه کولای شي د نړۍ پر اقتصاد د لویدیځ تسلط مات کړي. او په اقتصاد او نړیوال سیاست کې د لویدیځوالو انحصار له منځه یوسي له همدې امله د بریکس سازمان د جوړولو بنسټیز هدف د غیر لویدیځ اقتصادونو ترمنځ د لازیاتې اقتصادي همغږۍ رامنځته کول او د لویدیځ د اقتصادي او مالي جوړښت په وړاندې د اړین وزن رامینځته کول او د غرب انحصار کمول دي. د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره، د بریکس سازمان په تدریجي ډول درې مالي بنسټونه: نوی پراختیایي بانک (New Development Bank)، د احتمالي زیرمو ترتیب (Contingent Reserve Arrangement) او د بریکس تادیاتو سیستم (BRICS PAY) رامنځته کړل او د لومړي ځل لپاره د دې سازمان د ممکنه پیسو نمونه په وروستۍ سرمشریزه کې وښودل شوه.

- **نوی پراختیایي بانک (New Development Bank):** دا بانک په ۲۰۱۵م کال کې د بریکس د غړو هیوادونو په پراختیایي سکتورونو کې د پانګونې، د نړیوالو مالي بحرانونو سره د مبارزې او د زیربنایي پروژو د تمویل په موخه د ۱۰۰ میلیارده ډالرو لومړنۍ سرمایې (۲۰ میلیارد ډالر د هر غړي لخوا چمتو شوي) سره تاسیس شو. په دې بانک کې د غړیتوب میکانیزم د ټولو هیوادونو لپاره ازاد دی او له همدې امله متحده عربي امارات، بنګله دیش او مصر له دې بانک سره یوځای شول. دا مهال دغه بانک په غړو هېوادونو کې په څه باندې ۹۰ زیربنایي پروژو کې پانګونه کړې ده.[1]

_ **د زیرمو د ذخیره کولو تړون (Contingent Reserve Arrangement):** دا یو چوکاټ دی چې د بریکس غړو لخوا د نړیوالو فشارونو په وړاندې د ځان ساتلو لپاره تصویب کړی دی، پدې محافظت کې د نورو دندو ترڅنګ د اسعارو فشارونه هم شامل دي چې د نړۍ د اقتصاد نورې برخې د غړو هیوادونو په ملي اسعارو باندې تحمیلوي.[2] په بل عبارت، CRA د یو محافظتي میکانیزم په توګه کار کوي چې غړو هیوادونو ته اجازه ورکوي چې د پرداختونو توازن ستونزې یا مالي بحرانونو په صورت کې مالي سرچینو ته لاسرسی ومومي. دا فنډ د اسعارو د ذخیرې د ګډ سیستم پر اساس فعالیت کوي چې پرته له سختو شرایطو څخه مالي مرستې چمتو کوي چې معمولاً د نړیوال وجهي صندوق په څیر ادارو لخوا وضع کیږي. دا احتیاطي چوکاټ د پیسو نړیوال صندوق (IMF) سیال بلل کیږي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د بریکس تادیاتو سیستم (BRICS PAY):** د بریکس پی سیستم، چې د مالي تادیاتو پیغام رسولو لپاره غیر متمرکز او خپلواک سیستم دی، پدې وروستیو کې د بریکس لخوا څرګند شو. د تادیاتو دا نوی سیستم د بریکس غړو هیوادونو ته اجازه ورکوي چې خپل ملي اسعار په نړیوالو راکړو ورکړو کې وکاروي، یا په بل عبارت، د بریکس پی د امریکایي ډالرو له لارې د ملي اسعارو تبادلې اړتیا له منځه وړي چې دا د غړو هیوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې او سوداګریزې مرستې پیاوړې کوي.[3] بریکس پی د سویفت سره د سیالۍ کوونکي په توګه لیدل کیږي او د ګډون کوونکو هیوادونو د ډالرو د کمولو لپاره پیل شوی و.

**د بریکس ګډ پولی ارزښت:** هغه شی چې نړدې یو خوځښت رامنځته کوي او د نړیوال اقتصاد د راتلونکي په اړه ډیر څه رامنځته کوي، په ځانګړي توګه د نړیوال سوداګرۍ د اسعارو په توګه د بریکس اسعار د ډالرو موقعیت ته ضربه ورکولی شی. که څه هم اوس مهال اکثره هېوادونه په ځانګړي توګه روسیه او چین په خپلو سوداګریزو راکړو ورکړو کې خپل ملي اسعار کاروي، خو ډالر بیا هم یو مشترکه کرنسي ده چې نړدې ټولې سوداګریزې راکړې ورکړې ترې کېږي. د بریکس ګډ پولي واحد، چې لومړنی پلان یې د سر کال په سرمشریزه کې وښول شو، د بریکس غړو هیوادونو سوداګریزو تبادلو کې به د ډالرو بدیل وي. باید یادونه وشي چې د بریکس اسعارو په لومړنۍ طرحه کې د افغانستان د اسلامي امارت د سرلیک په ګډون د افغانستان درې رنګه بیرغ او د ډېرو هېوادونو نومونه شامل دي. که څه هم د بریکس اسعارو لومړنۍ طرحه راښکاره شوه چې د هغې د پلي کولو په اړه ډېر نظرونه راپورته شوي، مخکې لدې چې یو واحد اسعار شي یا حتی د یورو په څیر د بریکس هیوادونو پر ملي اسعارو بدل شي ډیره اوږده لار ورپاتې ده، خو په دې برخه کې غالب نظر دا دی چې لږ تر لږه د اقتصادي شاخصونو پر بنسټ، د داسې اسعارو د بریالیتوب احتمال ډېر دی.

**ب- سیاسي موخې:** په طبیعي توګه، په نننۍ نړۍ کې د اقتصاد او سیاست د ښکیلتیا له امله، بریکس د اقتصادي اهدافو د تعقیبولو سربیره، د سیاسي غوښتنو د پوره کولو په لټه کې دی. تر ټولو مهم سیاسي هدف چې د بریکس لخوا تعقیب شوی، د چین او روسیې له لوري په نړیوال نظام کې د لویدیځ سیاسي واکمنۍ ننګول دي. د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته نړیوال نظام له دوه قطبي څخه تقریبا یو قطبي ته ولاړ، خو د روسیې د بیا پیاوړتیا او د یو ستر اقتصادي قدرت په توګه د چین د راڅرګندېدو او همدا راز د سیمه ییزو قدرتونو لکه هند، برازیل، ایران او داسې نورو د راڅرګندېدو له امله یو قطبي نظام نه شو کولای له لازم ثبات څخه برخمن شي. په هرصورت، هیڅ یو ځواک ونه شو کولی د متحده ایالاتو زبرځواک ته ضربه ورسوي، ځکه چې تر ټولو مهمه وسیله چې امریکامتحده ایالات یې پر خپلو سیالانو د فشار راوړلو لپاره د یوې پیاوړې وسلې په توګه کاروي، نړیوال اقتصادي-مالي جوړښت دی چې د برټن ووډز ډالر محور سیستم پر بنسټ ولاړ دی، نو له همدې امله د یو زبر ځواک او نړیوال تسلط څخه د امریکا د ایستلو لپاره یوازینۍ ممکنه لاره د اقتصادي پلوه د امریکې بې وسلې کول دي او البته هیڅ هیواد په یوازې توګه د داسې کار کولو توان نلري. له همدې امله، د بریکس ډلې ترټولو مهم سیاسي هدف د یو قطبی نظم ننګول او د څو قطبي نظم رامنځته کول دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

برسېره پر دې چې تر اوسه پورې بریکس ځواکمن تدبیرونه جوړ کړي دي، د دغه سازمان ستر ظرفیتونه کولای شي په راتلونکي کې په اقتصادي او سیاسي دواړو برخو کې د لویدیځ ځواک کمزوری کړي.

## د بریکس سازمان وړتیاوې

تر ټولو زیات، هغه څه چې بریکس یې تر ډېره بریالی کړی او په لویدیځو ټولنو کې د اندېښنې سبب ګرځېدلی، هغه حقیقي او بالقوه ظرفیتونه دي چې د بریکس غړي هېوادونه یې تر دې مهاله لري. د مساحت له نظره، بریکس د ځمکې شاوخوا دریمه وچه برخه لري. یوازې له دې څخه د بریکس ځواک او احتمالي وړتیاوو اندازه لګولی شو. د نفوسو له نظره، دا سازمان د ځمکې شاوخوا 45٪ نفوس لري. د ناخالص کورني تولید (GDP) له نظره، دا د نړۍ د سړي سر 35٪ برخه جوړوي او د صادراتو له پلوه، د نړۍ د ټولو صادراتو 22٪ څخه ډېر د بریکس سازمان اړوند هېوادونو پورې اړه لري. همدارنګه د بریکس د تېلو د تولید ۳۰ سلنه برخه جوړوي.[4] د بریکس ډلې له موخو سره سم د دوی د ظرفیت او عملي کولو دغه حجم ښیي چې دغه ډله به په نړیوالو معادلو کې څه مقام او رول ولري. البته دغه ظرفیت په داسې حال کې دی چې د بریکس سازمان تر اوسه اته غړي لري او په راتلونکي کې د زیاتو هېوادونو له خوا د غړیتوب د غوښتونو د وړاندې کولو له امله دغه سازمان کولای شي په راتلونکي کې لا زیات ظرفیت ولري.

## خنډونه او ننګونې

سره له دې چې د بریکس ډلې د خپلو ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یو لړ تدبیرونه او ټینګ ګامونه پورته کړي دي او له بلې خوا د دغه سازمان احتمالي ظرفیتونه ډېر روښانه لیدلوري څرګندوي، خو یو لړ مسایل شته چې د دې سازمان په مخ کې د خنډونو او ننګونو په توګه عمل کوي او د سازمان لویو موخو ته رسیدل یو څه ورو کوي.

**الف- داخلي ننګونې:** د بریکس ټول غړي هیوادونه د مخ پر ودې هیوادونه په کټګورۍ کې شامل دي. مخ پر ودې هیوادونه په عمده توګه هغه هیوادونه دي چې د پرمختګ کچه یې ټیټه ده یا د دوی پراختیا په متوازنه کچه نه وي. د پرمختیا نا انډوله کچه او اکثره داخلي ستونزې چې دا هیوادونه په کې ښکیل دي دوی د دې مخه نیسي چې د بریکس اهدافو د پوره کولو لپاره خپل اعظمي ظرفیت وکاروي.

**ب- بریکس د وسیلې په حیث کارول:** بله مهمه مسله دا ده چې د بریکس ځینې غړي له دغه سازمان څخه د خپلو شخصي موخو لپاره کار اخلي. که څه هم چین، روسیه او ایران هغه درې عمده هېوادونه دي چې د امریکا پر اوسني نړیوال نظام نیوکې کوي، خو د هند، برازیل او جنوبي افریقا په څېر هېوادونه له اوسني وضعیت سره ډېره ستونزه نه لري، حتی د چین او روسیې ترمنځ، د اقتصادي-سیاسي اهدافو په برخه کې یو ډېر توپیر لیدل کیدی شي. چین غواړي له بریکس څخه په استفادې د خپل محور په شاوخوا کې د زیاتو


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هېوادونو د راغونډولو او د بريکس له لارې د خپلو پرمختيايي موخو د تر لاسه کولو توان پيدا کړي. روسيه چې اوس مهال له نړيوال انزوا سره مخ ده او د اوکراين د جګړې له امله د لويديځ له خوا پرې سخت بنديزونه لګول شوي، بريکس ته د يوې داسې وسيلې په سترګه ګوري چې له لارې يې کولای شي له انزوا څخه ووځي او له بنديزونو لرې شي. په همدې ډول د ايران په څېر هيوادونه هم د بريکس څخه تمه لري چې د دغو هيوادونو لپاره په بشپړه توګه شخصي وي.

**ج- د غړو تر منځ نامناسبې اړيکي:** له بلې خوا، بله مسئله چې د بريکس سازمان موثريت کموي او د ننګونې په توګه يې مخ ته پرته ده، له يو بل سره د غړو هېوادونو نامناسبې اړيکې دي. که څه هم چين او روسيه په بريکس کې د دوو سترو قدرتونو په توګه د دواړو هېوادونو ترمنځ په اړيکو کې کومه ستونزه نه لري، خو داسې هېوادونه هم شته چې له يو بل سره يې ناعادلانه اړيکې په بريکس کې د نظريو يووالی له ستونزو سره مخ کوي. د مثال په توګه، چين او هند د بريکس د کليدي غړو په توګه خپلمنځي ستونزې لري (لکه په سويلي او سويل ختيځ آسيا کې سرحدي شخړې او سيالی) چې د دواړو هيوادونو اړيکې ستونزمنې او امنيتي کوي يا دا چې ايران او متحده عربي امارات چې په دې وروستيو کې د بريکس غړيتوب لري، په خپلو اړيکو کې اختلافات لري.

**د- د شته اقتصادي نظم پياوړتيا:** يوه مهمه مسله چې د بل هر عامل په پرتله د بريکس په وړاندې د خنډ په توګه کار کوي هغه لويديځ قدرتونه او قوي جوړښتونه دي چې د نړۍ پر اقتصاد او سياست يې د شاوخوا نيمې پيړۍ واکمني کړې ده. په حقيقت کې پر ځواکمنو سازمانونو عبور لکه نړيوال بانک، نړيوال وجهي صندوق، سويفت او تر ټولو ډير د ډالرو تسلط دومره اسانه کار نه دی. له بلې خوا متحده ايالات، په نړۍ کې د يوازيني زبر ځواک په توګه يا د ګواښونو يا لالچونو له لارې د بريکس ځينې غړي د نيمايي لارې څخه لرې کوي. د بېلګې په توګه مصر له لوېديځ سره د ژورو اړيکو په پام کې نيولو سره، خپل مکلفيتونه نه شي ادا کولای، که څه هم سعودي عربستان ته په دې سازمان کې د ګډون بلنه ورکړل شوې وه، خو له لوېديځ سره يې د اړيکو له امله خپل غړيتوب وځنډاوه.

## افغانستان او برکس

بريکس، چې تر ډېره د ختيځو قدرتونو او هيوادونو څخه جوړ ده، په يو څو اړخو کې د افغانستان لپاره ګټور تماميدای شي. لومړی، د دغه سازمان اکثره غړي د افغانستان په اړه مثبت نظر لري او د افغانستان د خپلواکې پراختيا له بهير څخه ملاتړ کوي. دويم، افغانستان تقريباً د بريکس سازمان له پنځو سترو قدرتونو څخه د دريو هيوادونو په ګاونډ کې دی او دغه وضعيت افغانستان تل د بريکس سازمان د توجه مرکز ګرځوي. له شواهدو څخه هم څرګنديږي چې افغانستان يو له هغو هيوادونو څخه دی چې بريکس په کې پانګونې ته ليواله دی، ځکه مخکې له دې چې افغانستان د غړيتوب غوښتنه کړې وی، د افغانستان نوم او نښان د



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

بریکس واحد اسعارو په سمبولیک طرحه کې شامل و. له بلې خوا، افغانستان د یو مخ پر ودې هیواد په توګه کولی شی د خپل اقتصادي پرمختګ او سوکالۍ سره سم د بریکس سازمان له ظرفیتونو او مثبت لید څخه کار واخلي. په حقیقت کې افغانستان په داسې یو حالت کې دی چې د بریکس هیوادونه یې په اړه مناسب نظر لري او دا د افغانستان لپاره یو ښه فرصت دی چې د بریکس سازمان له مالي میکانیزمونو څخه ګټه پورته کړي.

## پایله

د بریکس سازمان چې له جوړېدو څخه یې شاوخوا څوارلس کاله کېږي، په ځینو برخو کې ښه ځلېدلی دی. دا سازمان چې په اصلي جوړښت کې لوی قدرتونه شامل دي، د اکثرو هیوادونو د غږیتوب لپاره غوښتنه کړې ده. د بریکس سازمان د لویدیځو سیالانو او د ختیځو بې وزله هیوادونو لپاره چې د لویدیځ متمرکز نړیوال سیستم د غیر عادلانه حکم له لارې له نیمې پېړۍ څخه ډېر زیانمن شوی د امید وړ امکانات برابر کړي دي. د قوي بنسټونو او ملاتړونو سره د مالي جوړښتونو په رامنځته کولو سره، د بریکس سازمان د برتون ووډز امر ته د پای ته رسیدو لپاره لاره پرانېستله او په پایله کې به د لویدیځ مالي او اقتصادي تسلط پای ته ورسیږي. همدارنګه بریکس کولی شي د متحده ایالاتو یو قطبي نظم ونړوي او نړیوال سیستم د یو متحد سیاسي چلند رامنځته کولو له لارې د څو قطبي جوړښت په لور یوسي. له همدې امله بریکس خپله شپاړسمه سرمشریزه "د مساوي نړیوال پرمختګ او امنیت لپاره د څو اړخیزه پیاوړتیا" نوم ورکړ. د دې سرلیک غوره کول ښیي چې بریکس داسې یوې مرحلې ته رسیدلی چې په حقیقت کې کولی شي د خپلو اصلي اهدافو سره سم عمل پیل کړي. که څه هم د بریکس پر وړاندې ډېر خنډونه او ننګونې شته، خو د بریکس سازمان تر اوسه د هغو تدبیرونو او ټینګو ګامونو او په راتلونکي کې د پام وړ پلانونو او د دې په پام کې نیولو سره چې ستر ظرفیتونه لري ټاکل شویو موخو ته رسېدل ستونزمن نه دي. په ټولیزه توګه دا ادعا کیدای شي چې په تېره نیمه پیړۍ کې بریکس یوازینی سازمان دی چې ختیځو قدرتونو د لویدیځ او د هغه د وسیلو په مقابل کې په اقتصادي او سیاسي اصولو او بنسټونو سره جوړ کړی دی. بریکس په دې وتوانید چې د اسیا، افریقا او لاتینې امریکا مخ پر ودې غیر لویدیز اقتصادي او سیاسي قدرتونه سره راټول کړي او د ګام په ګام او ثابت پرمختګ سره یې د راتلونکي لپاره پلانونه جوړ کړي. د لویدیځ تسلط او اقتصادي او سیاسي تسلط چې لا د مخه د زوال په لور روان دی، ګړندی شوی او ثابت شوی دی. د افغانستان لپاره د بریکس سازمان یو ډېر ښه فرصت دی چې د اقتصادي پراختیا په برخه کې له خپلو اسانتیاوو څخه کار واخلي. په بل عبارت، بریکس د یو ختیځ محور سازمان په توګه د مخ پر ودې هیوادونو د پراختیایي اهدافو پر بنسټ، د افغانستان لپاره خورا ګټور وسیله کیدای شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## وړاندیزونه

په دې لیکنه کې د ترسره شویو څېړنو له مخې د اسلامي امارت لپاره لاندې وړاندیزونه کیږي:

1. د دې لپاره چې اسلامي امارت په رسمي توګه په بریکس کې د افغانستان د غړیتوب غوښتنه وکړي، لومړی باید د دغه سازمان د غړو لخوا په رسمیت وپېژندل شي؛ نو پدې اساس اسلامي امارت باید د هغه د رسمیت پیژندلو لپاره کړنې ترسره کړي.

2. اسلامي امارت باید د روسیې، چین او ایران له لارې چې د دغو هېوادونو سره نږدې اړیکې لري، په بریکس کې د غړیتوب لپاره زمینه برابره کړي.

3. دا د افغانستان لپاره مناسبه ده چې بریکس ته داسې پلانونه وړاندې کړي چې له لارې یې کولی شي د دې سازمان له مالي مؤسسو څخه د غربي مالي مؤسسو د بدیل په توګه د خپلو اقتصادي پروژو د تمویل لپاره کار واخلي.

4. اماراتي او خصوصي رسنۍ باید د بریکس د معرفي کولو، ښه پوهیدو او له دې سازمان څخه د ګټې اخیستنې لپاره پراخ کمپاین وکړي.

## سرچینې

[1]. About NDB. Available at: https://www.ndb.int/about-ndb/

[2]. What the new bank of BRICS is all about - The Washington Post. Available at: https://www.washingtonpost.com/news/monkey-cage/wp/2014/07/17/what-the-new-bank-of-brics-is-all-about/

[3]. بایدها و نبایدهای بریکس پی. قابل دسترسی: https://donya-e-eqtesad.com/%D8%A8%D8%AE%D8%B4-%D8%A8%D8%A7%D8%B2%D8%A7%D8%B1-%D9%BE%D9%88%D9%84-%D8%A7%D8%B1%D8%B2-116/4116161-%D8%A8%D8%A7%DB%8C%D8%AF%D9%87%D8%A7-%D9%86%D8%A8%D8%A7%DB%8C%D8%AF%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%A8%D8%B1%DB%8C%DA%A9%D8%B3-%D9%BE%DB%8C

[4]. The global clout of the new BRICS. Available at: www.statista.com/chart/amp/33311/brics-share-of-global-gdp-and-population/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000